# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد     بدين بوم و بر زنده يک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم     از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سياسی |
| --- | --- |

فقير
۱۲ سپتمبر ۲۰۲۳

# د طالب په وړاندې مدنی سرغړونې او خاموش مقاومت

له دې څخه هيڅوک انکار نه کوي چې دملت اکثريت د طالب له حاکميت سره ستونزه لري او د دوی ترقی ضد، استبدادي او ظالمانه چلند نشي زغملای. په داسي حالاتو کې ملت ته څو لارې موجودی دي: وسله وال پاڅون، اعتصابات او تظاهرات او د مدنی مقاومت يو شمير نور ډير محتاطانه اقدامات لکه پوره همکاری نه کول او د ترقی ضد فرامينو بی ارزښته کول او د نړدې دوستانو په حلقاتو کې مخالفت ښودل، له سوشيل ميډيا په هوښياری کار اخيستل، په پټه د مقاومت او مخالفت لپاره تبليغی او موثرعملی کار کول.

له دوو کلونو را دېخوا، يو ځل د مقاومت او بيا د آزادی د جبهې غږ اوچت شو، خلکو ته ډيري هيلي پيدا شوي، خو د طالب د شديد استبداد او ځيونکی تشدد له امله دواړو حرکتونو او آن دا چې زموږ د مظلومو خويندو سوله خوښوونکو اعتراضونو ځای و نه نيو، دمقاومت څوتنه زړور سرتيري په نامردی سره شهيدان شول، نړۍ هم لازمه توجه ونه کړه.

له سياسی پلوه، د مقاومت جبهې يو منسجم او ټول افغانشموله کړنلاره وړاندې نه کړه. متاسفانه دوی دملی بيرغ په عوض هغه تنظيمی بيرغ اوچت کړ چې خلکو ورڅخه ښه خاطره نه لرله. له بلې خوا دوی چی له هيواد بهر ويناوې او غونډې کوي، په هغو کې د ديموکراتيکو ارزښتونو، فردی ازاديو، مترقی قدمو اخيستو اود ښځو د حقونو او د تعليم د حق په هکله هيڅ هم نه وايي، په عوض يې حاکميت ته تضرُع او په قدرت کې د شريک کولو هيلي ښکاره کړي. د دوی دغه دريځ ټول هيواد کي پلويان ونشو موندلای، داځکه چې د هيواد په سرتاسر کي د خلکو هيله د مدنی، ديموکراتيکو او ملی ارزښتونو ساتل، د فردی ازادی، تعليم او مطبوعاتو موجوديت، د لويو انکشافی پروژو پيل کول، د مرموزو قتلونو درول، ټولنيز عدالت، داستخدام د فرصتونو ايجاد، تخصصواکی او خدمت کوونکی اداره جوړول دي، نه دا چې په قدرت کې يو څو تنه بيرته شريک شي.

له بلي خوا نړيواله ټولنه په يو شمير نورو مسايلو لکه د اوکراين جنګ او يوشمير ناڅاپي پيښولکه د ترکيی زلزله، اورلګيدنی، د غلي دصدور او د انرژی دمنابعو محدوديدلو، چاپيريالی ستونزو او نورو سره بوخته ده. لوی قدرت (امريکا) د يو ننګين او شرموونکی توافق له مخی دطالب ملاتړ ته دوام ورکړ. د(تخليی) تر نوم لاندې تکړه متخصص او مسلکی کسان ووتل، پاتې ناهيلي شوي ځوانان د تېښتې په حال کې دي. هيواد د يوه متحجر او قاتل حاکميت تر منګولو لاندې راغلی دی.

په بهر کي هم افغانان متردد دي. د دوی تر منځ اتفاق نشته. د بهرنیو په تحرکاتو سره راز راز تعصباتوته لمن وهل کیږي او په وطن کي د جاري ناورین په وړاندې د دریدلو فرصت له لاسه وځي.
د ملت د بی زړه توب یوبل لامل د تېر رژیم په شلو کلونو کي دټولو منورینو او روښاندو نوم بدوالی دی. تېر مفسد او متفرق نظام د دیموکراسی، د پروژو تطبیق کولو، بیارغاوني، انتخاباتو، دبازارنظام... تر نوم لاندې زیاتره صادق منور هیوادوال او نیک پروگرامونه بی اعتباره کړل، اوس ملت په جرات او مینه د آزادي، تعلیم او ترقی غوښتونکو برنامو نوم نشي اخیستلای. طالب وسله والو ته د چین، روسیي، امریکی او گاونډیو له خوا د یوې ریزرف وسیلي په توگه نظر کول یوه بله بدمرغي ده. دوی هر یو فکرکوي چي دغه مزدوره ډله به خامخا یوه ورځ د استخباراتی منطقوی لوبو او سیالیو په بهیر کی دوی ته په کار شي، آن داچي ځانته د نږدې کولو هڅي يي کوي. دوی ملی قوتونو ته د فرصت ورکولو پروا ځکه نه کوي چي ملی او مترقی قوتونه فقط ملی گټو ته وفادار وي او داستخباراتو لومه کي نه لویږي.
په داسي یو بد وضعیت او څوگونو فشارونو کي څو لارې دي:

- ✓ په پرله پسي ډول د طالبانو د ناوړه اعمالو او فساد رسوا کول،
- ✓ سیمه کي د استخباراتي سازمانو د پیچلي لوبي بربنډول،
- ✓ په بهر کي د پاکو او مخلصو افغانانو له خوا د یو منسجم غورځنگ جوړول، د ملی ډیسکورس له لاری د یوې ځلاري موندل او نړیوالو سره دیالوگ او لابي کي استدلال او هیواد کي د بشری حقونو او انسانی ژوند خواته د نړیوالو دپاملرني رااړول،
- ✓ د طبیعی منابعو، ملی ثروتونو، فرهنگی میراث او د هیواد د نړیوال پرستیژ لپاره کار کول،
- ✓ پراخه ولسونو کي پرله پسي عامه پوهاوی،
- ✓ د هیواد دننه په تدریجی ډول په ډیر احتیاط د مدني سرغړونو پیل کول،
- ✓ د استبدادي – طفیلی، مرتجع حاکمیت څخه پټه کرکه اودهغو په وړاندې خاموش مقاومت ایجادول،
- ✓ په پای کي د سراسری قیام د شرایطو په برابریدو سره د استبداد پرځول او د یو صادق، ملی او مترقی حاکمیت رامنځته کول چي ټول له پاکو، صادقو، مسلکی، منورو او هیوادنیو گټو ته وفادارو افغانانو څخه جوړ وي.

البته هیڅوک د جنگ اور ته د لمن وهلو طرفدار ندی، نور نو افغانان د جنگ او وینی بهیدو حوصله نلری، اما طالب او ملاته باید خپل موقف ورکړل شی، له حکومتولی څخه لاس په سر اود دینی او اخلاقی چارو تنظیم او نورو مناسبو چاروکي د ټولنی په گټه بوخت شی، اداري، اقتصادی، کلتوری، او سیاسی چارې دی اهل کار ته وسپارل شي. باید بیا داسی موقع رانشي چی طالب وسله وال دوباره د منطقي د استخباراتو د لاس اله او وسیله وگرځی او بیا په هیواد کی د قتلونو او وینو تویولو بهیر جاری شی.
افغانان باید له څو تېرو کلونو زده کړه وکړي اوثبات، دایمی باعزته سوله، ملی یووالی، ویښتیا او ابادی خپل منهج وگرځوي.